په دې ناسته کې د افغانستان او ملګرو ملتونو ترمنځ پر اړيکو، دوحې ۳مه ناسته او د ناستې پر اجنډا او ترکيب هراړخيزې خبرې وشوې. په سر کې د سرمُنشي مرستيالې وويل، چې دوحه ۳ کې به د غړو هيوادونو او نړيوالو سازمانونو د استازو ترڅنګ دا ځل د نړيوال بانک او اسيايي بانک استازي هم ګډون کوي. آغلې روزمبري ډيکارلو وويل، چې دوحه ۳ کې به د بحث محورونه پر مالي او بانکي موضوعاتو، مخدره موادو پـرخلاف مبارزه او کروندګرو ته بديل معيشيت او همداراز د اقليم بدلون او ترې افغانستان ته راپوکېدلو زيانونو په اړه خبرې اترې وشي. آغلې مرستيالې وويل چې د افغانستان حکومت سره تعامل غوارې او بنايي واضح بحثونه او د دواړو لوريو پر غوښتنو او اندېښنو په اړه خبرې اترې ولرو.
د بهرنيو چارو وزير وويل، افغانستان د ملګرو ملتونو سازمان له لومړنيو غړو هيوادونو څخه و او د دغه سازمان سره يې فعالې اړيکې درلودې او اوس اسلامي امارت هم يوناما سره په کابل کې ښې اړيکې لري..

**Ministry of Foreign Affairs - Afghanistan**
@MoFA_Afg
20 May, 2024

قبل از ظهر امروز، آقای حسن کاظمی قُمی، نماینده ویژه رئیس‌جمهوری اسلامی و سفیر ایران در کابل با محترم مولوی امیر خـان متقـی، وزیـر امور خارجه ا.ا.افغانستان ملاقات نمودند.
در این دیدار وزیر امور خارجه پیام تسلیت و همدردی امارت اسلامی و ملـت افغانسـتان را در پیونـد بـه سـانحهٔ سـقوط هلیکوپتر و جـان بـاختن جلالتمآب دکتر سید ابراهیم رئیسی، رئیس‌جمهوری اسلامی ایران، آقای امیر عبداللهیان وزیر امور خارجه و شـماری از همراهـان شـان را بیـان داشته و از خداوند متعال برای جان باختگان بهشت‌برین و برای ملت ایران صبر جمیل استدعا نمودند.
وزیر امور خارجهٔ کشور نقش و زعامت رئیس‌جمهوری و وزیر امور خارجه ج.ا. ایران را در توسعهٔ همکاری‌های منطقه‌ای بخصـوص بـا افغانسـتان ارزشمند خواند .متعاقباً آقای قُمی ضمن سپاسگزاری از پیام تسلیت حکومت ومردم افغانستان، بیان داشتند که حکومت و مردم ایران پیام تسلیت حکومت و مردم افغانستان را در نخستین لحظات حادثه دریافت نموده است..

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
22 May, 2024

د ا.ا.ا.د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخند په مشرۍ يو لوړ رتبه پلاوي چې د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خـان متقي يې ملتيا کوله، د ايران اسلامي جمهوريت د جمهور رئيس سيد ابراهيم رئيسي او بهرنيو چـارو وزيـر حسـين امير عبـداللهيان د فـاتحې پـه مراسمو کې ګډون وکړ. د اسلامي امارت پلاوی د ايران اسلامي جمهوريت له نوي سرپرست ولسمشر دکتورمحمدمخبر او بهرنيو چـارو وزيـر بـاقر علي کني سره هم وکتل او د ايران اسلامي جمهوريت له حکومت او ولس سره يې په دې سترمصيبت کې ځان شريک وګڼه،په ياده پېښه کـې د قربانيانو روح ته دعا او پسماندګانو ته د صبر غوښتنه وکړه.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
23 May, 2024

پرون د ايران پلازمېنه تهران کې، د ا. ا. ا. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر او د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي د فلسطين د اسلامي مقاومت غورځنګ (حماس) د سياسي دفتر له مشر اسماعيل هنية سره وکتل.

23 May, 2024
Hafiz Zia Ahmad
@HafizZiaAhmad

تېره ورځ د ایران پلازمېنه تهران کې، د ا. ا. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر او د بهرنیو چارو وزیـر مولـوي امیـر خان متقي د قطر هیواد له امیر شیخ تمیم بن حمد آل ثاني، صدراعظم او د بهرنیو چارو وزیر محمد بن عبدالرحمن آل ثاني سره وکتل.

23 May, 2024
Hafiz Zia Ahmad
@HafizZiaAhmad

د ا.ا.ا. بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي د مهاجرت اداري رئیس ښاغلي اتیلا توروس په مشري د ترکیې جمهوریت لوړپوړي پـلاوي سره ولیدل.

په یاده ناسته کې متقي صاحب د ترکیې هیواد بشري مرستو څخه قدرداني کولو تر څنګ د مهاجرت پدیدې، غیر منظم مهاجرت مدیریت په برخه کې د دوه اړخیزو همکاریو پیاوړتیا او د مافیایي کړیو پر وړاندې د مبارزې په اړه خبرې اترې وکړې. ښاغلي اتیلا توروس په افغانستان کې د شته امنیت څخه خوښي څرګنده کړه او یادونه یې وکړه چې افغان وګړي د غیر منظم مهاجرت په لړ کې د ګڼو ننګونو او ژوند ګواښونکو ستونزو سره مخ دي او د یاد مهاجرت مدیریت لپاره په کار ده چې قانوني مهاجرت پراختیا ومومي.

متقي صاحب د ترکیې لوري څخه افغانانو ته د ویزې صدور بهیر اسانه کولو غوښتنه وکړه، تر څو افغانان په قانوني ډول یاد هیواد ته سفر وکـړي.

همدا راز په یاده ناسته کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پراختیا، خصوصي سکتور ودې او په افغانستان کـې د پـانګې اچونې شته فرصتونو په اړه بحث ترسره شو.

27 May, 2024
Abdul Qahar Balkhi
@QaharBalkhi

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د غزې ولس پر خلاف د صهیونیستي رژیم د جنګي جنـایتونو پـه دوام، پـه رفـح ښـارګوټي کـې د بې‌ځایه شوو ملکیانو پر پنډغالي هوایي بریدونه چې لسګونه تنه په کې شهیدان شول، چې ډېری یې ښځې او ماشومان تشکیلوي، یو ځل بیا پـه کلکو ټکو غندي.

رفح ښارګوټي کې د بې‌ځایه شوو پر پنډغالي د صهیونیستي رژیم لخوا د نن سهار بریدونو یو ځل بیا وښوده چې هېڅ ډول د جګړې قوانینو ته ژمنتیا نه لري او د غزې نسلوژنه د صهیونیستي رژیم د جنګي ستراتیژۍ برخه ده. د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت د غزې د نسلوژنې پـه ۲۳۴مـه ورځ یـو ځل بیا پر نړیوالو سازمانونو او د سیمې مؤثرو اسلامي هیوادونو غږ کوي، چې د غزې ولس په تړاو خپل مسؤولیتونه ادا کړي او د صهیونیستي رژیم د جنایتونو مخه ونیسي.

29 May, 2024
Abdul Qahar Balkhi
@QaharBalkhi

د ا.ا.ا. سره د اړیکو د پراختیا په تړاو د روسیې فدراسیون د رهبرۍ او چارواکو د وروستیو څرګندونو په تړاو د بهرنیو چارو وزارت د ویاند څرګندونې
د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د روسیې فدراسیون د رهبرۍ، د بهرنیو چارو وزیر او نورو چارواکو د هغو څرګندونو هرکلی کوي چې د افغانستان اسلامي امارت سره یې د اړیکو د پراختیا په تړاو د سیاسي عزم څرګندونه کړې ده.

د ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت د روسیې فدراسیون ته څرګندوي چې د متقابل درناوي او مشترکو مصالحو پر بنسټ، د دواړو ولسونو د ګټو د خوندیتوب په موخه د مثبتو اړیکو د لاپراختیا او ټینګښت په تړاو جدي سیاسي عزم لري.

تېرو څه کم دریوو کلونو وښوده چې له لسیزو جګړو او بې‌ثباتۍ وروسته، چې افغانستان د یوه مسـؤول حکومـت څښـتن شـوی، د ټـولي سیـمې د هیوادونو لپاره یې ښه فرصت برابر کړی چې د دوه اړخیزو لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره د مثبتو اړیکو د پراختیا پر لارو چارو کار وشي او په دې برخه کې ګڼو هیوادونو سره ښه پرمختګونه هم شوي دي.

3 Jun, 2024

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi

د اندونیزیا جمهوریت د هلال احمر او د جوماتونو شورا رئیس او د اندونیزیا د ولسمشر پخوانی مرستیال محترم محمد یوسف کالا او مل پلاوي د افغانستان د بهرنیو چارو له وزیر مولوي امیر خان متقی سره وکتل.
یاد پلاوی چې د اندونیزیا د هلال احمر او جوماتونو شورا رئیس او د اندونیزیا د اولس مشر- په کتنه کې دافغانستان او اندونیزیا ترمنځ په سیاسي،اقتصادي، سوداګریزو او د اولسونو ترمنځ د دوه اړخیزو اړیکو پر پراختیاخبرې وشوې.
د بهرنیو چارو وزیر پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د تاریخ په اوږدوکې یې له افغانستان سره د اندونیزیا له نیک نیتي او داندونیزیا له بشري مرستو مننه وکړه. د بهرنیو چارو وزیر زیاته کړه: چې د افغانستان او اندونیزیا د خلکو او حکومتونو ترمنځ شته دیني، کلتوري او متقابل احترام ته په کتو افغانستان له دوست او ورور هیواد اندونیزیا سره د اړیکو د ټینګښت او پراختیا غوښتونکی دی.
متقي صاحب ووېل: له ۴۵ کلنې جګړې وروسته په افغانستان کې امن راغلی او د انرژی، کانونو، کرنې، سرک جوړونې، صنعت او ښلابښلو برخو کې د سوداګرۍ او بهرنۍ پانګونې لپاره ښه فرصتونه رامنځته شوي دي .له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان اړیکې مخ پر پراخېدو دي او له ګاونډیو او سیمې سره یې ښې اړیکې ساتلې دي. افغانستان لېواله دی چې د جنوب ختیځې اسیا له هېوادونو سره خپلې اړیکې پراخې کړي..

12 Jun, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

وزارت امور خارجهٔ ا.ا.ا. تصویب قطع‌نامهٔ اخیر شورای امنیت سازمان ملل متحد به هدف پایان جنگ در غزه را گامی ابتدایی برای پایان‌دادن به نسل‌کشی مردم غزه می‌داند که نیازمند مذاکرات واقع‌بینانه است تا منجر به آتش‌بس دایمی در نوار غزه گردد و زمینهٔ زندگی عادی برای مردم غزه مساعد شود. وزارت امور خارجهٔ ا.ا.ا. ضمن تقبیح جنایات رژیم صهیونیستی، از حق تاریخی مردم فلسطین برای داشتن یک کشور مستقل ابراز حمایت می کند.

12 Jun, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

The Ministry of Foreign Affairs of the Islamic Emirate of Afghanistan deems the adoption of the recent resolution by the United Nations Security Council aimed at ending the war in Gaza as an initial step to end the genocide of the people in Gaza, which requires realistic negotiation to lead to a permanent ceasefire in Gaza strip, ensuring a normal life for the people of Gaza.
IEA – MoFA condemns the crimes committed by the Zionist regime and supports the historic right of the Palestinian people to have an independent state.

16 Jun, 2024

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi

له ملګرو ملتونو سره د تېرو شاوخوا دوو میاشتو خبرو په جریان کې چې د دوحې راتلونکې ناستې کومه اجنډا او ترکیب له اسلامي امارت سره شریک شوی، د هغوی په رڼا کې اسلامي امارت د دوحې راتلونکې ناسته کې په اصولو کې د ګډون پرېکړه کړې ده که د ناستې ترکیب او اجنډا کې هر ډول بدلون راځي، طبعاً چې زموږ پر پرېکړه به هم اغېز کوي چې هغه وخت به بیا ټولو لوریو سره شریک شي.

25 Jun, 2024

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi

د دوحې راتلونکې ناسته کې د ګډون په اړه د همغږۍ ناسته د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي په مشرۍ ترسره شوه.
په دې ناسته کې د اسلامي امارت مرکزي ویاند محترم مولوي ذبیح‌الله مجاهد، د افغانستان بانک مرستیال محترم نور احمد اغا، د کورنیو چارو وزارت د مخدره موادو پرخلاف د مبارزې معین محترم ملا عبدالحق همکار او د صنعت او سوداګرۍ وزارت سلاکارانو ګډون کړی و.
د بهرنیو چارو وزیر ووېل، چې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه له هدایت سره سم به د اسلامي امارت هیئت د دوحې په راتلونکې ناسته کې د ا.ا. مرکزي ویاند محترم ذبیح‌الله مجاهد په مشرۍ ګډون کوي.
په ناسته کې ګډونوالو د دوحې په ناسته کې د افغانستان اسلامي امارت د پلاوي پر غږو، د افغانستان پر مالي او بانکي نظام بندیزونو، د خصوصي سکتور د پرمختګ په لار کې ننګونو او د مخدره موادو پرضد د افغانستان حکومت پر اقداماتو خبرې اترې وکړې.

3 Jul, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي، د ۲۰اوريز نړيوال جام نيمه پايلوبي ته د افغانستان کرکټ د ملي لوبډلې د بريا او لارمونډنې په موخه د لوبډلې له مشر راشدخان سره تليفوني خبرې وکړې او هېوادوالو ته يې مبارکي ووېله.

3 Jul, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي وياند محترم مولوي ذبيح‌الله مجاهد دوحه۳ ناسته کې له ګډون او وطن ته له راګرځېدو وروسته د بهرنيو چارو له وزير محترم مولوي امير خان متقي او د وزارت له يوشمير رئيسانو سره د دوحه۳ د ناستې برسېره، هلته د‌ګنو هيوادونو لـه استـازو سره د بېلابېلو موضوعاتو په تړوا د کړو مجلسونو په اړه معلومات شريک کړل.

6 Jul, 2024

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi

وزارت امور خارجهٔ امارت اسلامی افغانستان انتخاب حکومت جديد را به مردم و نظام جمهوری اسـلامی ايـران تبريـک عـرض می‌نمايـد .امـارت اسلامی افغانستان اميدوار است، با روی کار آمدن حکومت جديد روابط ميان دو کشور همسايه و مسلمان در زمينه‌های گوناګون بيشتر تقويت و ګسترش يابد.

7 Jul, 2024

**Ministry of Foreign Affairs - Afghanistan**
@MoFA_Afg

نن ورځ چې له ١٦/سرطان/۱۴۰۳ نېټې سره سمون خوري د متحده عربي اماراتو په پلازمينه ابوظبي کې د افغانستان سـفارت کـې د الکترونيکـي تذکرو سيستم پرانيست غونډه ترسره شوه. سرپرست سفير م. بدرالدين راغلو ميلمنو ته د ښه راغلاست تر څنګ مېشتو افغانانو ته د يادي پروسې د پيل کېدو مبارکي ووېله او له خپله اړخه يې د هر راز همکارۍ ډاډ ور کړ.

د غونډې په ادامه د نورو ويناوالو تر څنګ داحصائيې ملي اداري راغلي کاري ټيم په نمايندګی د الکترونيکـي تـذکرو د تخنيکي چارو د انسجام رئيس ښاغلي استاد سلطان احمد سباوون د وينا ترڅنګ د پروسې تخنيکي پراوڼه تشريح کړل او د خپلي اداري پـه نماينـدګی يـې پـوره اطمنـان ځرګند کړ.

د يادولو وړ ده چې د بهرنيو چارو وزارت ، احصائيې ملي اداري او سفارت د ګډو هڅو او همغږۍ په نتيجه کې د الکترونيکي تـذکرو د وېـش لـړۍ پيل شوه ، غونډه د دعايي په ويلو سره پای ته ورسېده.

10 Jul, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

نن په کابل کې د ترکمنستان سفير خواجه عوضوف د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي سره وکتل .په دې ناسته کې د افغانستان په خاوره کې د تاپي نل ليکې پر غزولو، تورغندۍ سټېشن ظرفيت لوړونې او د هرات نورالجهاد برق سبسټېشـن د چـارو پـه تـړاو خبرې اترې وشوې.

11 Jul, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

د افغانستان لپاره د سعودي عربستان شاهي مملکت سفير ښاغلي فيصل بن طلق البقمي د ۱.۱.۱. د بهرنيو چارو وزير مولوي اميرخـان متقـي سره وکتل .په دې ناسته کې د افغانستان او سعودي عربستان پر دوو اړخيزو اړيکو او په هېواد کې پـه مختلفـو برخـو کـې د لاسـته راوړنـو پـه اړه هـر اړخيزې خبرې اترې وشوې.

11 Jul, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

وزير الخارجية يستقبل سفير السعودية لدى أفغانستان التقى السيّد فيصل بن طلق البقمي، سفير المملكة العربية السعودية لدى أفغانستان بالمولوي أمير خان متقي وزير الخارجية لإمارة أفغانستان الإسلامية.

دار في هذا اللقاء نقاش شامل حول العلاقات الثنائية بين أفغانستان والمملكة العربية السعودية كما جرت أيضا مناقشة حول مختلف الإنجازات في مختلف القطاعات في البلاد.

تحدّث وزير الخارجية في مستهل حديثه عن القواسم المشتركة الدينية والثقافية والتاريخية بين شعبي البلدين، وتابع قائلا: إنّ إمارة أفغانستان الإسلامية مهتمة بتوسيع العلاقات مع المملكة العربية السعودية.

وأعرب السيد متقي عن أمله في أن تتطور العلاقات الثنائية أكثر خلال مهمة السيد فيصل البقمي.

ومن جانبه أشار ممثل المملكة العربيةالسعودية لدى أفغانستان إلى العلاقات التاريخية والعميقة بين البلدين،معربا أيضا عن ارتياحه على اتخاذ خطوات سريعة من أجل توسيع نطاق العلاقات مع الشعب الأفغاني..

11 Jul, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

نن د يوناما مشرې مېرمن روزا اتنبايوا د ا.ا.ا.ا د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي سره وکتل .په دې ناسته کې د دوحې دريېمې ناستې په اړه او همداراز له ناستې وروسته د لازمو ګامونو پورته کولو په تړاو خبرې اترې وشوې.

په سر کې د بهرنيو چارو وزير هيله څرګنده کړه، چې د دوحې دريېمې ناستې له ترسره کېدو وروسته د مالي او بانکي بنديزونو او د مخدره موادو د بديل معيشت په اړه پرمختګ رامنځ ته شي.

همداراز د يوناما مشرې وويل، د دوحه۳ د بحثونو د تعقيب په موخه به د افغانستان حکومت له اړوندو ادارو سره له نژدې کار ته ادامه ورکړي.

مېرمن روزا وويل، پکار ده چې له دوحه۳ وروسته يې د بحثونو په اړه کابل کې د ډيپلوماتيکو حلقاتو سره پوهاوي خپرولو ناستې ترسره کړو.

په پای کې دواړو لوريو ژمنه وکړو چې دوحه۳ ناستې بحث شوي مسايل په ګډه تعقيب کړي.

## د افغانستان په اړه د دوحې ناستې په تړاو د ا.ا.ا. د بهرنيو چارو وزارت اعلاميه

۱۷ فبروري ۲۰۲٤

د افغانستان اسلامي امارت په تېرو دوو نيمو کلونو کې له يوې خوا په کورننۍ د نظام د سياسي، اداري، امنيتي، اقتصادي او اجتماعي بنيادونو د ټينګښت لپاره هڅې رواني ساتلې دي؛ له بلې خوا يې د سيمې هېوادونو سره اړيکو کې ښه پرمختګ کړی دی. همدارنګ ا.ا. د ملګرو ملتونو، غربي هېوادونو او په ځانګړې توګه متحده ايالتونو سره هم په منظم ډول د ګڼو چاينلونو له لارې د يو اړخيزو نامشروع بنديزونو، تور او جايزې ليستونو او د افغانستان بانک د زېرمو د ازادولو په اړه بحثونه لرلي دي.

د افغانستان اسلامي امارت په دې باور و چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د م.م. د سرمنشي ښاغلي انتوني ګوټېرش په مشرۍ د افغانستان لپاره د ګڼو هېوادونو د ځانګړو استازو ناسته يو بل ښه فرصت و چې پر اختلافي ټکو په کې واضحې او په نتيجه ولاړې خبرې شوې وای.

د بهرنيو چارو وزارت م.م. ته واضحه کړې ده چې، که اسلامي امارت د يواځيني مسؤول لوري په توګه د افغانستان په استازيتوب ګډون کوي او د دوحې ناسته کې د افغان پلاوي او م.م. ترمنځ په لوړه کچه پر ټولو مسايلو د واضحو خبرو زمينه برابره شي؛ نو ګډون به ګټور وي، خو په دې برخه کې د نه پرمختګ له امله د امارت لخوا بېنتيجې ګډون ګټور ونه بلل شو.

د يادونې وړ ده، که ملګري ملتونه موجوده حقايق درک کړي او د خو محدودو لوريو تر اغېز او فشار لاندې رانه شي او دا ټکی په پام کې ونيسي چې د افغانستان اوسنی نظام د تېر شل کلن رژيم په څېر د چا تر اغېز لاندې نه راځي؛ نو د دې امکان شته چې د افغانستان اسلامي امارت سره په خبرو کې پرمختګ وشي. د سيمې له هېوادونو سره د ا.ا. تېر دوه نيم کلن تعامل وښودله چې که د تېرو شل کلنو ناکامو تجربو له تکرار څخه ډډه وشي، د يو اړخيزو تحميلي پرېکړو، تورونو او فشارونو پر ځای يو واقعبينانه او عملګرايانه چلن خپل شي، نورو لوريو سره هم دوو اړخيزو اړيکو کې پرمختګ کېدلای شي.

## بيان وزارة الخارجية لإمارة أفغانستان الإسلامية بشأن قرار مجلس الأمن الدولي على الوقف الفوري لإطلاق النار في قطاع غزة

٢٦ مارس ٢٠٢٤

أعربت وزارة الخارجية في بيان أصدرها عن ترحيب إمارة أفغانستان الإسلامية بقرار مجلس الأمن الدولي بشأن الدعوة إلى الوقف الفوري لإطلاق النار في قطاع غزة.

تؤيد الإمارة الإسلامية وتدعم موقف حماس والشعب الفلسطيني بمطالبة وقف إطلاق النار، وانسحاب جميع قوات الاحتلال، وتوسيع تدفق المساعدات الإنسانية إلى قطاع غزة، وعودة النازحين الفلسطينيين إلى أراضيهم وإعادة إعمار مدينة غزة ورفع الحصار عنها، كما تطالب مجلس الأمن الدولي بضمان تنفيذ وقف إطلاق النار ووقف الأزمة المستمرة في قطاع غزة في أسرع وقت ممكن. تدعو إمارة أفغانستان الإسلامية مجلس الأمن التابع للأمم المتحدة والدول ذات التأثير باتخاذ خطوات عملية لمنع إبادة الشعب الفلسطيني وإيجاد طرق عادلة لحل القضية الفلسطينية.

## د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د صهیونیستي رژیم له خوا د اشغال شوي فلسطین په اغوار سیمه (اردن سیند) کې د مصادرې او نویو ښارګوټو جوړولو اعلان په کلکو ټکو غندي

۲۹ مارس ۲۰۲٤

دصهیونیستي رژیم وروستیو اقداماتو نړیوالو قوانینو په تیره بیا نړیوال بشري قوانینو ته د دغه رژیم عدم پابندي پـه ډاګـه کوي او د دغه ډول یو اړخیزو اقداماتو دوام او د فلسطین د خلکو حقونو نه سترګې پټول به دسیمې د حالاتو د لا خرابیدا سبب شي.

د افغانستان اسلامي امارت له نړیوالو او په ځانګړې توګه د سیمې له اغېزمنو مسلمانو هېوادونـو څخـه تمـه لـري چـې د فلسطین مظلومو خلکو د ملاتړ په پار خپل قانوني، انساني او اخلاقي مسوولیتونه ادا کړي او په اشغال‌شویو سیمو کې د غیر قانوني ښارګوټو د پراخېدو مخه ونیسي.

## Announcement about the decision of the Republic of Ireland, Norway and Spain to recognize the Palestinian state.

٢٤ May ٢٠٢٤

The Ministry of Foreign Affairs of the Islamic Emirate of Afghanistan welcomes the decision of the Republic of Ireland, Norway and Spain to recognize the Palestinian state & calls it a positive step.

This development is occurring while in addition to the aggression on the historical land of Palestine, the Zionist occupation is trying to bring a demographic change by committing war crimes & genocide.

IEA-MOFA deems the Palestinian land as the historical & legitimate right of the Palestinian nation, & strongly condemns the ongoing genocide by the Zionist invaders directed at broader regional instability.

IEA-MOFA once again calls on the international community, in particular the Islamic states to take urgent measures to prevent the ongoing disaster in accordance to their responsibility & the right of defense & freedom of the Palestinian nation.

## اعلامیه وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان در قبال وحشت رژیم صهیونیستی در شفاخانه "ناصر" در شهر خان یونس

۲٦ می ۲۰۲٤

با تأسف فراوان از کشف قبرهای دسته جمعی در محوطه شفاخانه "ناصر" در شهر خان یونس فلسطین مطلع گردیدیم. پیدا شدن اجساد شهداء از محوطه شفاخانه مذکور که در میان شان زنان و کودکان نیز شامل می باشند بیانگر مظلومیت مردم بی دفاع فلسطین، عدم پابندی رژیم اشغالگر صهیونیستی به قوانین و مقررات بین المللی و همه ارزشهای انسانی و بی تفاوتی و چشم پوشی جامعه بین المللی به جنایات هولناک رژیم غاصب صهیونیستی پنداشته میشود.

وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان کشتار بی رحمانه مریضان مجروحین و افراد ملکی و بی دفاع فلسطین را به شدید ترین الفاظ محکوم نموده، ضمن اعلان حمایت از مبارزه حق طلبانه مردم فلسـطین، از بارګـاه الله متعـال بـرای شهداء بهشت برین استدعاء نموده در سر تا سر جهان بالای آنانیکه ضمیر زنده دارند صدا می نماید تـا در جلـوګیری از وحشت و بربریت رژیم صهیونیستي علیه مردم مظلوم فلسطین سهم بگیرند.

## د امنیت شورا له لوري په غزه کې د عاجل اوربند د مسودې د تصویب په اړه

## د افغانستان اسلامي امارت بهرنیو چارو وزارت اعلامیه

۲٦ می ۲۰۲٤

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د م م امنیت شورا له لوري په غزه کې د عاجل اوربند د مسودې د تصویب هرکلی کوي او د دې ترڅنګ د حماس او په ټوله کې د فلسطیني ولس د هغه موقف چې د اوربند د دوام د ټولو اشغالګرو ځواکونو د وتلو ، غزې ته د پراخو بشري مرستو رسولو، خپلو سیمو ته د بې ځایه شویو فلسطینیانو د بیرته ستنیدلو، د غزې ښار د بیا رغولو او محاصرې ختمولو غوښتنه کوي، تایید او ملاتړ کوي.

د م. م امنیت شورا باید هر څه ژر په غزه کې د اوربند پلي کول یقیني کړی، او د روان بحران مخه ونیسي.

په عین حال کې د افغانستان اسلامي امارت د ملګرو ملتونو پر امنیت شورا او بانفوذه هیوادونو غږ کوي چې له پریکړه لیکونو هاخوا د فلسطینیانو د نسل وژنې د مخنیوي له پاره عملي ګامونه پورته کړي او د فلسطیني قضیې د اساسي حل لپاره عادلانه لارې چارې ولټوي.

## IEA-MOFA welcomes the appointment of the non-resident ambassador of Nicaragua to Afghanistan

٢٤ June ٢٠٢٤

The Ministry of Foreign Affairs of the Islamic Emirate of Afghanistan has accepted and welcomes the first ever appointment of a non-resident ambassador to Afghanistan in Beijing by the Republic of Nicaragua.

IEA-MOFA has instructed its embassy in Beijing to establish close working relations with the Embassy of Nicaragua.

IEA-MOFA views the establishment of diplomatic relations with the Republic of Nicaragua as a positive development and hopes for further broadening of relations between the two countries in areas of common interests.

## د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت د یمن په الحدیدة صهیونیستي برید غندي

۲۲ جولاي ۲۰۲٤

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د یمن جمهوریت په الحدیده بندر د صهیونیستي رژیم برید چې قربانیان یې ملکي وګړي دي په کلکو ټکو غندي.

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت پر نړیوالو سازمانونو او پر سیمه اغیزمنو هیوادونو باندې غږ کوي چې په غزه او سیمه کې د صهیونیستي رژیم د جنایتونو مخه ونیسي، ترڅو دغه جنایتونه او ظلمونه په سیمه کې د لا زیاتو تلفاتو او ویجاړیو لامل نه شي.

## په اروپايي هېوادونو کې د مېشتو درنو هېوادوالو د پام وړ!

۳۰ جولاي ۲۰۲٤

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت تل هڅه کوي چې په بهر کې په ځانګړي ډول په اروپايي هېوادونو کې د مېشتو افغانانو له مشروع حقونو دفاع وکړي او نوموړو ته اسانه قونسلي خدمتونه وړاندې کړي.

د بهرنيو چارو وزارت، خپلو هېوادوالو ته د غوره خدمتونو ترسره کولو په موخه په اروپايي هېوادونو کې د افغانستان له سياسي او قونسلي استازوليو بيا بيا غوښتنه کړې ده، چې لږ تر لږه د قونسلي چارو په برخه کې له مرکز سره تعامل وکړي؛ خو په خواشيني سره بايد ووايو، چې د يادو ډېرى استازوليو له لوري کړنې د مرکز سره په نه همغږۍ، خپل سرۍ او له شته منل شوو اصولو څخه په ښکاره سرغړونې پرمخ بېول کېږي.

د ا.ا.ا. د بهرنيو چارو وزارت په بهر کې مېشتو هېوادوالو ته يو ځل بيا خبر ورکوي، چې د دې اعلاميې د خپرېدو له نېټې وروسته د لندن، بلجيم، برلين، بن، سويس، اتريش، فرانسه، ايټاليا، يونان، پولنډ، سويډن، ناروې، کاناډا او استراليا استازوليو له لوري قونسلي خدمتونه لکه: وثايق، تصاديق، عدم مسؤليت پاڼه، پاسپورټ صدور، پاسپورټ تمديدي ستيکر، ويزې ستيکر، او ... د مرکز او اړوند نهادونو له لوري د منلو وړ نه دي او د بهرنيو چارو وزارت د يادو سندونو په وړاندې هېڅ ډول مسووليت نه لري او نه اجراآت پرې ترسره کېږي.

د يادولو وړ ده، چې بهر مېشتي هېوادوال او بهرنيان کولای شي د افغانستان له پورتنيو استازوليو پرته په نورو هېوادونو کې د افغانستان اسلامي امارت استازوليو ته د قونسلي خدمتونو او ويزو تر لاسه کولو لپاره مراجعه وکړي.

## بيان إمارة أفغانستان الإسلامية حول

## استشهاد رئيس المكتب السياسي لحركة المقاومة الإسلامية في فلسطين (حماس) الدكتور إسماعيل هنية

٣١ يوليو ٢٠٢٤

قال الله تعالى: مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً. صدق الله العظيم. (الأحزاب، الآية ٢٣).

فقد تلقينا نبأ استشهاد رئيس المكتب السياسي لحركة المقاومة الإسلامية في فلسطين (حماس) في غارة وقعت الليلة الماضية في العاصمة الإيرانية طهران.

فإنا لله وإنا إليه راجعون.

الشهيد إسماعيل هنية كان قائدا فلسطينيا مسلما فذا ذكيا، وضحى أعز ما يملك في سبيل الجهاد والمقاومة ودحر الطغيان، وقدم نفسه قربانا لله عسى أن يبلغ رضوان الله منتصرا أو شهيدا، وقد بلغ مبتغاه. الشهادة في سبيل الله، هي النجاح الأكبر والأمنية السامية لكل مسلم ومجاهد، وقد بلغه الشهيد بإذن الله، وقدم للمجاهدين وأتباعه دروسا عملية في المقاومة والتضحية، والصبر، والجهاد.

فإننا إذ ننعى خبر استشهاده لأمتنا المجاهدة، نقدم تعازينا ومواساتنا إلى جميع من بقي من أفراد أسرته المجاهدة، وقيادات حركة حماس وإلى جميع المجاهدين المرابطين في سبيل الله في خنادق مقاومة المحتل والكيان الصهيوني الغاشم. نسأل الله العلي القدير أن ينعم الشهيد هنية بالفردوس الأعلى وأن يرزق جميع المجاهدين الصبر والثبات والسلوان.

إن إمارة أفغانستان الإسلامية إذ تؤكد بأن المقاومة والدفاع عن أراضي فلسطين الطاهرة لحركة المقاومة الإسلامية في فلسطين واجب ديني ومسؤولية إنسانية، تندد بأشد العبارات، الإبادة الجماعية للفلسطينيين والقصف العشوائي، والعمل الوحشي للكيان الصهيوني الغاشم في فلسطين. وتعتبر استشهاد المجاهد الكبير ثلمة كبيرة للأمة الإسلامية والقافلة الجهادية.

ومرة أخرى فإن إمارة أفغانستان الإسلامية تطالب وبجد جميع الجهات الفعالة المؤثرة خاصة العالم الإسلامي والعربي في أن يبذلوا قصارى جهودهم لسد الاحتلال الصهيوني والعدوان الوحشي في المنطقة. وإن استمرارية الجرائم الصهيونية ستفضي بلا أدنى شك إلى عدم الاستقرار في المنطقة ودول الجوار، وسيكون المحتل الصهيوني وحلفائه هم المسؤولون عن تداعيات استمرارية العدوان وجرائمهم الهمجية.

إمارة أفغانستان الإسلامية

١٤٤٦/١/٢٥هـ ق ١٤٠٣/٥/١٠هـ ش ـ ٣١/٧/٢٠٢٤ م